# سکیولرزم: یوه نوې کتنه

## ۱) سریزه

موږ په اوسنۍ نړۍ کې په لوی لاس له یوه داسې عظمی نعمت نه ځان بې برخې کړی دی، چې نـورو تولـو صغری نعمتونو ته ورنه لاره ورغلې ده.

د مسلمانانو په زوال کې تر بهرنیو لاسونو داخلي عاملونه زیات وو، خو دا چې زوال خوړلي ملتونـه تـل د خپلـې مـاتې او ځوړتیا پړه په نورو یا «بل» ور اچوي، مسلمانانو هم خپله بربادي په غرب ور وتپله او دې کـار یـې کـه لـه یـوې خـوا لـه مسلمانانو دا ځواک واخیست، چې د خپلو تېروتنو اعتراف وکړي او خپله اینده برنامه سازي کړي، نو بلـې خواتـه یـې یـو لوی تاوان دا هم ور واړاوه، چې د مسلمانانو په زړونو او سترګو کـې د غـرب لـه هـر شي کرکه پیـدا شـوه. د دیوبنـد لـه مدرسې بیا زموږ د عصري سازي د بهیر پر وړاندې د ملایانو دریځ چې په راډیو، ټلویزیون او رېل‌کاډي او هر غربي تولید کې یې د غرب توطئه او دسیسه لیدله، یو لوی عامل یې هماغه له زوال نه وروسته د غرب په ضد د مسـلمانانو ذهنیـت و. دا مخالفت یوازې تر توکو او تولیداتو پورې محدود نه و، بلکې پـه ډېـر شـدت او تونـده بڼـه یـې د غـربي نظریـاتو او مفکورو پر وړاندې هم ځان ښرګند کړ.

خو له غربي توکو او تولیداتو سره پخلاینه په دې ډېره اسانه وه، چې توکي د ګټې وټې او اسـتعمال شـیان دي او ژونـد ورسره اسانېږي او بله دا چې د توکو استعمال د بنده په خپل لاس کـې وي، مثبتـه او منفـي دواړه اسـتفادې ورنـه کـولی شي. خو دغه استدلال چې زوال خوړلي ملت د غربي توکي او تولیـداتو پـه برخـه کـې وضـع کـړ، پـه غـربي نظریـاتو او افکارو یې تطبیق نه شو کړای او د [illegible] شا څه علتونه وو [illegible] دیني مفکورو [illegible] دواړو پوهـه غـواړي، چې مسلمان ملت له خپل زوال وروسته له دواړو پوهنو محروم وو.

Ketabton.com

یوه پوهه هغه وه چې په معاصره دنیا کې یې خپله ټولنه، مذهب، کلتور او د خپلـې ټـولنې تشریـح کـولی شـوی، یـانې د خپل ځان په اړه پوهه، چې په دې پوه شوي وای، چې موږ چېرته ولاړ یو. بله پوهه د دې نظریاتو او مفکورو ژور فهم او درک و. خو مسلمانانو چې په خپل ځان د اجتهاد دروازې تړلې وې، نه یې د خپلې مذهبي پـوهې او دینـي مفکـورې پـه مټ د خپلې ټولنې ستونزو ته ځواب ویلای شوی، نه یې د معاصرې دنیا غوټې پرانیستلی شوی او نه یې په معاصره دنیا

ketabton.com - The Digital Library

کې نوې تولید شوې پوهې ته غبږه ورکولی شوی، ځکه دوی د خپلو اسلافو له بحثونو او کتابونو پرته نور هېڅ هم نه لیدل او مثال يې د کوهي له چونګښو وراخوا بل څه نه و.

## ۲) د سیکولرزم پېژندنه

(مولانا وحیدالدین خان)

د سیکولرزم په اړه د منصفانه دریځ لپاره د دوو شیانو ترمنځ باید فرق وکړو. یو سیکولر فلسفه ده، او بل سیکولر پالیسي. د دواړو ترمنځ ډېر واضح فرق دی. کوم خلک چې په دې فرق باندې پوه نه شي، هغه د سیکولرزم په هکله سم دریځ نه شي نیولی.

سیکولر فلسفه په پیل کې د هغو خلک د ذهن پیداوار وه، چې په محلدانه فکر سمبال و. خو وروسته چې سیکولرزم له فلسفې خپله لاره بېله کړه، نو د جمهوري نظام یوه عملي پالیسي وګرځېده. د عملي پالیسي له رویه د سیکولرزم معنا دا وه، چې مذهبي چارې د فردي ازادي لاسونو ته وسپارل شي، او مشترکې مادي ګټې د حکومتي واک او اختیار له دایرې وشمېرل شي.

پخوا زمانه د مذهبي جبر زمانه وه. په اوسنۍ زمانه کې مذهبي ازادي د خلکو یو نه منسوخېدونکی حق ګرځول شوی دی. سیکولر پالیسي په اصل کې د همدې مذهبي ازادي یوه برخه ده. پخوا زمانه کې دا دود و، چې یوې مذهبي ډلې به دې ته غاړه نه ایښوده، چې بلې مذهبي ډلې ته ازادي ورکړي. لومړۍ ډلې به دوهمه ډله د مذهبي جبر او اکراه (religious persecution) هدف ګرځوله. خو په معاصر جمهوریت کې د دې بالعکس سیکولره پالیسي غوره شوې ده، یانې مشترکې مادي چارې د حکومت په دایره کې ساتل، او د مذهب او کلچر په برخه کې خلکو ته بشپړه ازادي ورکول.

هره ټولنه دې ته اړتیا لري، چې د سولې فضا په کې حاکمه وي. له سولې پرته هېڅ ډول پرمختګ او پیشرفت هم شونی نه دی. سیکولرزم د عملي پالیسي له رویه د سولې د راوستو یو تدبیر دی. همدې تدبیر په اوسنۍ زمانه کې پرمختللي هېوادونه د لرغوني طرز له مذهبي جګړو نه ژغورلي دي. همدا ده، چې له هند نه تر امریکا او بریتانیا پورې د سیکولر دولت اصل غوره کړای شوی دی. د سیکولر دولت معنا مذهبي مخالفت نه دی، بلکې مذهبي نه مداخلت دی. همدا ده، چې په دې هېوادونو کې هره مذهبي ډله له بشپړې ازادۍ برخمنه ده. په دې هېوادونو کې یوازنی شی چې ممنوع دی، هغه یوازې تشدد دی، نه په خپل مذهب باندې عمل کول.

ketabton.com - The Digital Library

هغه خلک چې د سیکولرزم په برخه کې منفي ذهن لري، د هغې وجه دا ده، چې هغوی په دوه شیانو کې فرق نه کوي. یو سیکولره فلسفه او بل سیکولره پالیسي ده، دوی دواړو ته په یوه سترګه ګوري. حال دا چې په دې تړاو سم دریځ ته د رسېدو لپاره لازمي ده، چې دواړه له یو بله بېل وکتل شي.

هغه خلک چې د سیکولرزم په هکله منفي ذهن لري، هغوی په یوه بله تېروتنه کې هم ښکېل دي. هغوی سیکولره پالیسي یوازې تر مشترکو مادي چارو پورې نه محدودوي، بلکې هغوی یې د مذهبي مخالفت په معنا اخلي. حال دا چې په اوسنۍ زمانه کې د سیکولر حکومت معنا د مذهب مخالف حکومت نه دی، بلکې د دې معنا یوازې دومره ده، چې حکومت په مذهبي چارو کې د نه لاسوهنې (non-interference) پالیسي- ته ژمن دی. په دې مسئله کې ټوله غلطفهمي ځکه پیدا کېږي، چې خلکو نه‌لاسوهنه، د مخالفت هم‌معنا ګڼلې ده.

دا مسئله یو بل اړخ هم لري. هغه دا چې د مذهبي ازادي اصل په یوه وخت کې دوه ډوله ازادۍ رانغاړي. مذهبي عمل او مذهبي تبلیغ. په اوسنۍ زمانه کې په ټولو سیکولر هېوادونو کې خلکو ته دا دواړه ډوله ازادۍ ورکول شوې دي. د دې معنا دا ده، چې یوه مذهبي ډله په فردي توګه په خپل مذهب باندې د عمل په خوا کې د نورو مذهبي ډلو په منځ کې د خپل مذهب لپاره سوله ییز تبلیغ هم په بشپړه توګه جاري ساتلی شي. دا ازادي تر دې حده پورې رښتینې ده، چې په دې هېوادونو کې زیاتره خلک خپل دین بدل کړي او د حکومت له لوري په دوی باندې هېڅ ډول بندیز نه ایښودل کېږي.  مثلاً په امریکا کې هر کال شاوخوا سل زره امریکایان، د اسلام دین ته غاړه ږدي.  (۲۰۱۷)

له دې اړخه چې وګورو، نو د سیکولر پالیسي معنا دا ده، چې هره مذهبي ډله په ټاکلې فردي دایره کې په خپل مذهب باندې د عمل کولو په خوا کې دا هڅه کولی شي، چې د نورو فکر او عقیده هم بدله کړي.

## ۳) سیکولرزم په اسلام کې

د مصر علامه قرضاوي د سیکولرزم په اړه بشپړ کتاب (اسلام او سیکولرزم) لیکلی دی، خو په دې کتاب کې یې د څېړنې میتود او اسلوب دومره ماشومانه او غیرعلمي دی، چې انسان یې له دوو مخونو ډېر نه شي لوستی. علامه قرضاوي خپل بحث د سیکولرزم په لغوي تحقیق پیل کړی او له څو قاموسونو څخه یې د سیکولرزم د لغوي معنا په نقلولو هڅه کړې، چې دا وښیي، چې ولې سیکولرزم له اسلام سره په ټکر کې دی. خو د یوې پدیدې د څېړلو لپاره دا تر ټولو کمزوری میتود دی، چې د یوې کلمې لغوي معنا مخې ته ونیسو او بیا هغې معنا ته د خپل تعبیر او تفسیر په بنیاد لکۍ او ښکرونه ورکړو.

ketabton.com - The Digital Library

د یادونې وړ ده، چې په دې برخه کې شاوخوا ټول هغه کتابونه چې زموږ دودیـزو علـماوو لـیکلي دي، پـه همدغـه ډول مغالطې ولاړ دي. مسئله دا نه ده، چې د سیکولرزم لغوي معنا څه ده او ایا دغه معنا یې د اسلام له کوم اصـل سره ټکـر لري یا نه، بلکې اصلي مسئله دا ده، چې لومړی وګورو، چې ایا سیکولرزم خپل ځان د یوې مفکـورې، عقیـدې، نظریـې او مذهب ځایناستی بولي او شته مفکورې له منځه وړي او که د بشري ژواندانـه عمـومي تـابلو تـه د کتلـو بېلـه زاویـه او مختلف لیدلوری دی؟ دغه خبره به نوره هم په ساده ټکو کې وکړو، چې ایا یو مذهبي انسان ته چې موږ سیکولر انسـان وایو، دا په دې معنا ده، چې نوموړي خپل مذهب له لاسه ورکړی او ځای یې سیکولرزم نیولی او که یې معنا دا ده، چې مذهبي انسان د ژوندانه یا دنیوي ستونزو په اړه یو داسې دریځ نیولی چې سرچینه یې په مذهب کې نشته. زما په نظر او له روایتي علماوو پرته به ټول باخبره ملګري زما خبره تائید کړي، چې سیکولرزم د بلـې عقیـدې ځایناسـتی یـا لـه منځـه وړونکی نه دی، بلکې یوازنۍ عقلي او عملي تګلاره ده، چې انسان یې د خپلې زمانې په مقابل کې خپلولی شي.

د تأبیر النخل په حدیث کې چې کله رسول الله صلی الله علیه وسلم دا خبره وکړه، چې «أَنْتُمْ أَعْلَمُ بِأَمْرِ دُنْيَاكُمْ»، نو پـه اصل کې یې له غرب نه شاوخوا لس یوولس سوه کاله دمخه د سیکولرزم نظري او اصولي بنیاد کېښوده او مسلمانانو ته یې یوه داسې تګلاره په لاس ورکړه، چې په معاصره دنیا کې د بریالي وجود یوازنۍ عملي تګلاره کېدی شي. زما پاسنی ټول بحث د همدې حدیث په هکله زما په تفسیر ولاړ دی او د سیکولرزم رښتونی تعریـف پـه همـدې حـدیث کـې بیـان شوی، چې نور بحث به وړاندې وربانديې وکړو.

## ۴) یو پیغمبرانه سنت

د مصر علامه قرضاوي په خپل کتاب (اسلام او سیکولرزم) کې په خپل ټول زور و توان دا ناکامـه هڅـه کـړې ده، چـې دوه خبرې حتما په ثبوت ورسـوي. یـو دا چـې د سـیکولرزم معنـا او مفهـوم لادینیـت یـا بـې دینـي دی. دوهـم دا چـې د سیکولرزم بله هره معنا غلطه ده. پوښتنه دا ده، چې روایتي علما ولې د لامذهبیت په معنا دومره ټینګـار کـوي؟ ځـواب دا دی، چې تر څو چې دوی سیکولرزم په بې دیني معنا نـه کـړي، تـر هغـو پـورې دوه خـبرې نـه شي ثـابتولی: یـو دا چـې سیکولرزم هم یوه عقیده او نظریه ده او بله دا چې له دین او مذهب سره په مسـتقیم تصـادم او مخالفـت کـې ولاړه ده. مثلا تاسو وګورئ، دوی ډیموکراسي هم د «کفري نظام» په حیث معـرفي کـوي او هېڅکلـه بـه یـې د عـزل او نصـب د یوازني عملي میکانیزم او په ټولنه کې ګفتمان ته د ازادي بښونکې اصل په توګه یاد نه کړي، ځکه په دې ډول بیا دوی نه شي کولی، چې دغه «کفري نظام؟» له خپل «اسلامي نظام؟» سره په ټکر کې ثابت کړي.

ketabton.com - The Digital Library

د روایتي علماوو بله مغالطه دا ده، چې دوی د سیکولرزم په هکله دا نظر لري، چې سیکولرزم د علم لپاره یوازې دوه سرچینې مني، یو پنځه ګوني حواس او بل انساني عقل؛ او وحي ته د علم د سرچینې په نظر نه ګوري. دا خبره تقي عثماني صاحب هم تکرار کړې ده. خو دوی په دې ځان نه دی پوه کړی، چې سیکولرزم ځکه فقط دوه سرچینې مني، چې د سیکولرزم سروکار په ټوله کې د انسان له ظاهري ژوند او دنیوي مسایلو سره دی. یو انسان خپل باطني ژوند او اخروي مسایل څنګه حل و فصل کوي او له کومو میکانیزمونو یا علومو استفاده کوي، سیکولرزم هېڅکله دې ډګرونو ته پښې نه دي غځولې او نه یې غځولی شي. د سیکولرزم په هکله اصلي او بنیادي نکته چې ټول روایتي علما یې له پامه غورځوي، دا ده، چې سیکولرزم یوه مذهبي عقیده، نظریه یا فلسفه نه ده، بلکې د دنیوي ژوند په مقابل کې د انسان فطري غبرګون، رویه او برخورد دی. د همدې برخورد لپاره مولانا وحیدالدین خان د «پالیسي» کلمه کارولې ده.

دا هم د روایتي علماوو یوه مغالطه ده، چې سیکولرزم سمدستي په سیاسي نظام پورې تړي. خبره دا ده، چې د یوه سیاسي نظام له ماتحت نه مخکې زه یو انسان یم. زما ژوند دوه مخونه لري، یو مخ مې دنیا ته دی او بل مخ مې د اخرت په لوري. په دې دواړو مخونو کې زه له ګڼو مسایلو، ننګونو او ستونزو سره مخ کېږم. همدغه مسایل او ننګونې چې دنیوي اړخ ولري او زما په اخرت محوره ژوند پورې تعلق ونه لري، نو زه به حتما یو غبرګون او چلند له ځانه ښیم. پوښتنه دا ده، چې دا غبرګون به څه ډول وي او له کوم ځایه به سرچینه اخلي؟ ځواب دا دی، چې د دې غبرګون فطري او طبیعي بڼه سیکولرزم دی. هر انسان فطرتا یو سیکولر موجود دی. سیکولرزم د انسان د فطرت هغه ځواب دی، چې دی یې د انساني، ټولنیز او دنیوي ژوند سوالونو ته ورکوي.

د انسان دغه غبرګون دومره فطري دی، چې ان په ټول تاریخ کې هېڅ پیغمبر د دغه غبرګون او سیکولري دریځ په خپلولو کې شک او تردد نه محسوس کړی. وړاندې به موږ له قرآن کریم څخه د پنځو پیغمبرانو له ژوند څخه په مستقیم او د ګڼو پیغمبرانو له ژوند څخه په غیرمستقیم ډول دا وښیو، چې هغوی ټول څنګه په هره معامله کې سیکولري دریځ او برخورد ته ژمن وو او هېڅکله یې په دې برخه کې جوړجاړی یا انعطاف نه دی ښودلی. د دې پیغمبرانو مثالونه به په واضح ډول راته دا ثابته کړي، چې د پیغمبرانو اخروي مذهب که اسلام و، نو دنیوي پالیسي- یا برخورد یې وچ کلک سیکولرزم و.

## ۵) فطري او پیغمبرانه ژوندطرز

موږ اوس د سیکولرزم په اړه دې پړاو ته اوښتي یو، چې نور به داسې ابهام پاتې نه وي، چې وضاحت ته اړتیا ولري. سیکولرزم مو لومړی د انساني فطرت یو جز او بیا مو د دنیوي او ژوندنیو مسایلو پر وړاندې د انسان یوازنی فطري چلند

ketabton.com - The Digital Library

وباله. اوس فقط هغه موضوعات پاتې دي، چې د سيکولرزم په اصلي مباحثو پورې اړه نه لري، بلکې يوازې د سيکولرزم له اطلاقاتو، دلالتونو او اغېزو څخه رازېږي. خو که انسان په اصلي مباحثو پوه وي، دغه فروعي مسايل په خپل عقل او فکر هم هوارولی شي. په دې ليکنه کې موږ د تېرو پيغمبرانو په ژوند کې د سيکولرزم د اصل وجود او په دې تړاو د پيغمبرانو غيرمبهم دريځ ته لنډه اشاره کوو. د يادونې وړ ده، چې لوستونکی بايد هڅه وکړي، چې له دې اجمال څخه تفصيل ته پخپله ورسېږي.

**الف) د سيمويل عليه السلام مثال:**

د تورات مطالعه راته ښيي، چې بني اسرائيلو د ځان لپاره له خپل پيغمبر څخه د يوه پاچا غوښتنه وکړه. پيغمبر عليه السلام د خدای د وحي له مخې طالوت د پاچا په توگه ور په گوته کړ. دا په دې معنا، چې د خدای، پيغمبر او اسلام لپاره دين، دنيا او واک درې واړه جلا مسايل دي او هېڅ لازمه نه ده، چې يو پيغمبر دې په دنيوي چارو باندې هم حاکميت ولري. د خدای په نزد هم د پيغمبر حد او حدودو معلوم دي او پيغمبر هم په خپل رسالت پوه دی. دا پېښه په اجمال سره په سوره بقره کې هم راغلې ده.

**ب) د داؤد عليه السلام مثال:**

داؤد عليه السلام ته د سيمويل عليه السلام له لوري د پيغمبري زېری او خبر ورکول شوی و او داؤد عليه السلام هم خپل مقام درک کړی و خو په دې سربېره هم داؤد عليه السلام د طالوت په لښکر کې د يوه عسکر په حيث وجنگېده او د جالوت په نوم دېوماننده انسان يې په خپل کاڼي رانسکور کړ او دغه بايللې جگړه يې په فتحه بدله کړه. په وروسته دور کې داؤد عليه السلام د پيغمبرانه حيثيت له مخې نه دی پاچا شوی، بلکې په بني اسرائيلو کې عملي حالاتو دې مقام ته لوړ کړ.

**ج) د يوسف عليه السلام مثال:**

د يوسف عليه السلام په ذهن او زړه کې د دې خبرې وضاحت موجود و، چې زما رسالت او دنيوي ژوند په يو بل پورې هېڅ اړه نه لري. همدا دليل و، چې د يوه مشرک پاچا په حکومت کې يې دنده ومنله او په ډېر اخلاص او صداقت يې خپله دنيوي دنده سرته ورسوله. د پيغمبرانو اصلي دنده د خلکو انذار او تبشير (قرآن) دی، د دې په خوا کې چې په ژوند کې له هر ډول مسايلو سره مخ کېږي، د هغو په اړه د دوی دريځ او غبرگون د دوی په بشري (يا سيکولري) حيثيت پورې اړه لري، نه د دوی په پيغمبرانه حيثيت پورې.

**د) د موسی عليه السلام مثال:**

ketabton.com - The Digital Library

موسی علیه السلام د فرعون په دربار کې فرعون ته وویل، چې زما قوم له ماسره پرېږده، چې موږ د سینا دښتې ته ووځو او د خدای عبادت وکړو. خو فرعون یې په خپلې جاهلانه ارادې د موسی خبرې ته غوږ ونه نیوه او خپلو مشاورینو ته یې وویل، چې دا سړی له موږ نه پاچاهي نیول غواړي او غواړي په موږ واکمني وکړي. د موسی علیه السلام یوازې خپل قوم غوښتل، یوازې د عبادت په موخه وتل، له مصري قوم سره هېڅ کار نه لرل، د وخت له پاچا او سیاسي واک پر وړاندې بشپړه بې تفاوتي ښودل، د دې واضحه نمونه ده، چې د پیغمبرانو دریځ وچ کلک سیکولري و.

**هـ) د عیسی علیه السلام مثال:**

د انجیل مطالعه راته ښیي، چې عیسی علیه السلام خپلو حواریانو ته په یوه وینا کې وویل، «څه چې د قیصر دي، هغه قیصر ته وسپارئ او څه چې د خدای دي، هغه خدای ته وسپارئ.» له دومره غیرمبهمې وینا وروسته یوازې همدا تمه پاتې کېږي، چې عیسی علیه السلام په واضحو ټکو کې دا خبره وکړي، چې «اې حورایانو! زما دنیوي پالیسي سیکولرزم دی او اخروي مذهب مې اسلام دی.»

په پای کې به د ګڼو پیغمبرانو له خولې هغه خبره راوړو، چې خپل قوم ته یې ویل، چې زه له تاسو اجر نه غواړم، زما اجر په الله باندې دی. پوښتنه دا ده، چې دا کوم اجر دی، چې پیغمبر یې نه غواړي؟ ځواب دا دی، چې بې له شکه دا هماغه اجر دی، چې د مکې مشرکینو یې رسول الله ته وړاندیز وکړ، یانې د ټول عرب واکمني، خو رسول الله یې له منلو وچ کلک انکار وکړ.

## ٦) یوازنی اپشن

تر ځایه پورې به یوازنی ټکی چې د توجه وړ دی، دا دی، چې په ګڼو ځایونو کې سیکولرزم ته د «یوازني» عملي دریځ او چلند حیثیت ورکړل شوی دی. خبره دا نه ده، چې موږ ګڼ اپشنونه په لاس کې لرو او کولی شو، هر یو یې انتخاب کړو، بلکې موږ سره یوازې او یوازې یو عملي او پریکټیکل اپشن دی او هغه سیکولرزم دی. راځئ، خپل پاسني بحث ځینې نورې نقطې به هم په لنډ ډول ذهن ته تازه کړو.

دوهمه مسئله دا وه، چې ما سیکولرزم یو داسې غبرګون او رویه بللی و، چې فطري دی او سرچینه یې د انسان په فطرت پورې تعلق لري. له سیکولرزم انکار اصلا له خپل بشري فطرت نه انکار دی. سیکولرزم تنوع پرستي ته لاره هواروي، د رواداري لاره پرانیزي، فردي او اجتماعي ازادي ته تحقق وربښي، دنیا له اخرت نه جدا کوي، «د ټولنیز امنیت او سولې تضمین دی»، په اختلاف سربېره د بل منل رازده کوي، ایا دا ټولې خبرې د انساني فطري اواز نه دی؟ که دی، نو بیا دې ولې انساني فطرت او سیکولرزم یو بل سره مخالف او ښکر په ښکر وي؟

ketabton.com - The Digital Library

دریمه مسئله دا وه، چې موږ سیکولرزم یوه رویه او غبرګون او «پالیسي» وبلله، حال دا چې د روایتي علماوو په نظر کې سیکولرزم یوه کفري فلسفه، غیرمذهبي عقیده او الحادي مفکوره ده. همدغه سبب دی، چې زموږ لپاره سیکولرزم «شجرة طیبة» ده او د روایتي علماوو لپاره «شجرة خبیثه». دا مغالطه باید دوی پخپله هواره کړي.

څلورمه مسئله دا وه، چې موږ سیکولرزم د ټولو پیغمبرانو دریځ او سنت وباله او په ډېر تاکید مو دا خبره وکړه، چې د هغوی دریځ وچ کلک سیکولري و. د دې وجه دا نه وه، چې موږ په زور غوښتل، یو شی (العیاذ بالله) په پیغمبرانو ور وتپو. بلکې زموږ خبره په دې قاعده ولاړه وه، چې ټولو پیغمبرانو د فطرت دین راوړی دی او سیکولرزم هم د فطرت یوه برخه ده، نو په دې سره ګواکې د پیغمبرانو دنیوي او اخروي ژوند او رسالت دواړه تکمیل مومي.

پنځمه مسئله دا ده، چې یوه پیغمبر ته د واک سپارلو یا واکمن کولو چاره په دې دلیل الله تعالی ځانته منسوبوي، چې په دې دنیا کې هر کار د الله په امر او اراده ترسره کېږي او د واک سپارنې په برخه کې خو د الله تعالی همېشنی سنت دا پاتې شوی دی، چې الله تعالی یې په خپل حکمت او عدالت سپاري، خو دا کار به هم په بشپړه توګه د طبیعي اسبابو او عواملو له مخې سرته رسېږي. سنة الله د ړوند قانون نوم نه دی، بلکې تر شا یې لویه فلسفه پرته ده.

شپږمه مسئله دا ده، چې په اسلامي دنیا کې نن ورځ ټولې هغه ستونزې او مسایل د همدې «dualism» له نشتوالي زېږېدلي دي. پیغمبران چې همدغه ډوالیزم ته ژمن و، په هره برخه کې یې دریځ واضح او څرګند و، خو دغه ډوالیزم چې له پامه وغورځېده، له اسلام نه هم د الف لیلی افسانه جوړه شوه او له اوسني مسلمان نه هم هغه چرګه چې نه د هګیو ده او نه به د شوروا شي.

انساني فطرت د دې تقاضا کوي، چې دنیوي ژوند یې په اخرت هېڅ اغېز ونه کړي او نه یې اخرت په دنیا اغېز وکړي. وړاندې موږ د همدې اجمال تفصیل ته تم کېږو.

## ۷) د انساني فطرت اواز

انسان فطرتا دوه ګونی مخلوق دی. یو ګونی یې دنیاپلوی دی او بل ګونی یې د اخرت یا له مرګ نه وروسته ژوند پورې تړلی دی. په نورو ټکو کې یې داسې وپېژنئ، چې یو د انسان روحي بعد دی او بل یې جسمي بعد دی. سره له دې چې زموږ بدن په غذا وده کوي او دغه غذا په روح هم اغېز لرلی شي، خو هغه غذا چې موږ یې بدن ته تغذیه کوو، همه غذا خپل روح ته نه ورکوو. د انسان دغه دوه‌ګونی فطرت د انسان د دنیوي او اخروي ژوند په تړاو هم همدومره صدق کوي، څومره چې د روح او جسم په اړه رښتیا دی. انسان فطرتا نه غواړي چې دنیا او اخرت یې سره خلط و ملط شي او یا یې

ketabton.com - The Digital Library

يو په بل مسلط شي يا يو د بل له امله زيانمن او اغېزمن شي. انساني فطرت په دغه برخه کې د بشپړې ازادي تقاضا کوي او حقيقت دا دی، چې الهامي اديانو دغه ازادي او دوه‌گونی‌توب منلی هم دی او په پام کې يې هم نيولی دی.

تاسو د الهامي اديانو ټول تاريخ خپلو سترگو ته ودروئ. هرکله چې د يوه پيغمبر مخاطبينو ته الهي پيغام رسول شوی دی، نو هغوی په خپل زعم انگېرلې ده، چې دې سره به مو دنيوي حيثيت او مقام له گوتو ووځي، بس وار له مخه يې له الهي پيغام سره کلک مخالفت ښودلی دی. ان چې کله يې د خپلو پلرونو او نيکونو په دين باندې تاکيد هم کړی دی، نو تنها وجه به يې دا وه، چې په هماغه دين او تگلاره کې به د دوی دنيوي مقام خوندي و. مثلا د فرعون د پاچاهي ټوله مانۍ د شرک له خښتو رعبدلې وه او د موسی ع د توحيد دعوت د دې مانۍ لپاره د ابراهيمي تبر غوندې و. په همدې خو فرعون خپلو درباريانو ته وويل، چې وگورئ، دا سړی راغلی دی، غواړي له موږ واک واخلي او پخپله په موږ واکمني وکړي.

مگر تاسو په دې هم غور وکړئ، چې د هر پيغمبر په پيغام کې به دا ارومرو واضح و، چې زما د اخروي نجات پيغام ستاسې په دنيوي مقام او منزلت هېڅ اغېز نه کوي او خپلې دنيوي چارې په خپل عقل او تدبير پخپله مخکې وړلی شئ. نبي کريم صلی الله عليه وسلم خو دا خبره په دومره واضحو ټکو کې کړې ده، چې تر هغې ډېر وضاحت يې هېڅ ممکن نه دی. مثلا پاچاهانو ته به يې په ليکونو کې په صرحت سره دا خبره ليکله، چې ستاسې دنيوي حيثيت به پخپل حال پاتې وي. مثلا هغه ليک ولولئ، چې د حارث بن ابی شمر غساني په نوم و او ورته ليکلي يې و، چې «په الله ايمان راوړه، ستا حکومت به پخپل حال پاتې شي.» دغه راز په يوه اوږد حديث کې نبي کريم ص فرمايلي دي، چې «په جاهليت کې ستاسې غوره به په اسلام کې هم غوره وي»، په دې معنا چې ستاسې د جاهليت د زمانې اثر او رسوخ به له منځه نه ځي، يوازنی شرط دا دی، چې اسلام يو دين دی او په ديني لحاظ غوره هغه څوک کېدی شي، چې په خپل دين يې ځان پوه کړی وي.

## ۸) ايا په هره مسئله کې فتوا ضرور ده؟

د علماوو او فقهاوو په منځ کې يو جدي او ژور بحث دا هم دی، چې ايا هره مسئله شرعي حيثيت لري او که نه؟ او ايا اړتيا ده، چې په هره مسئله کې يوه مفتي ته مراجعه وکړو او فتوا ورنه وغواړو؟

تر کومه چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم و صحابوو، تابعينو او تبع تابعينو د دور خبره ده، نو هغوی په دې برخه کې ډېر واضح موقف درلود. تر دې چې گڼ داسې واقعات کتابونو راوړي دي، چې نه يوازې يوه صحابي هر سوال ته شرعي حيث نه دی ورکړی او سوال يې نه دی ځواب کړی، بلکې سوال او سايل يې دواړه غندلي هم دي. همدا سبب دی،

ketabton.com - The Digital Library

چې له رسول الله ص نه دا راز خبرې راپاتې دي، چې «إستَفتِ قلبَلکَ، له خپل زړه نه دې فتوا وغواړه» یا دا چې «انتم اعلم بأمر دنیاکم، په دنیوي چارو تاسو بهتر پوهېږئ.» د صحابوو خو مزاج دا و، چې رسول الله ته به یې نېغ په نېغه وویل، چې که الهي وحي او حکم نه وي، نو موږ ستا مشورې او لارښوونې ته اړتیا نه لرو لکه بَرِیرَۃ چې ورته وویل، «لا حاجة لي فیه، زه ستاسې مشورې او سپارښتنې ته ضرورت نه لرم.»

په دې توګه زموږ لپاره خیر القرون همدا درې طبقې دي، تر هغوی وروسته چې هر څوک راغلي دي، د هغوی خبره که له قرآن او سنت سره موافقه وه، نو موږ ته په دواړو سترګو د منلو ده، له هغه پرته یوازې اساطیر دي او افسانې چې کتابونو پرې ډک شوي دي.

د دغه بحث جزیات ډېر زیات دي، خو پخپله د دې بحث وجود د دې ثبوت دی، چې اسلام د دنیا و مافیها د هر جز او کل سره هېڅ راشه درشه نه لري او د اسلام خپل ټول جز او کل په اخرت پورې تړلي دي.

زموږ د روایتي علماوو دا ساده‌توب د خندا وړ دی، چې دوی د اسلام اخلاقي او اجتماعي احکام د دې لپاره وړاندې کوي، چې دنیوي سعادت او نېکمرغي پرې ترلاسه شي، حال دا چې د اسلام هر حکم یوازې د اخروي فلاح او کامیابي لپاره دی. یو مسلمان د دې لپاره رښتیا وایي او عدل کوي، چې په اخرت کې به اجر پرې ورکول کېږي او له ګناهونو ډډه کوي، چې د دوزخ له عذاب نه بري وي. خو همدغه دواړه کاره نامسلمان د دې لپاره کوي، چې یو خو یې وجداني تقاضا هم مجبوروي او بله دا ده، چې دنیوي خیر او برکت هم په همدې کېویني او د اخرت د وعدې او وعید یا اجر او زجر په بنا یې نه کوي.

## ۹) یوه وروستۍ خبره

دا دنیا د امتحان وطن دی. دلته د الله تعالی سنت دا دی، چې حق به په مشتبه او ملبوسو شکلونو کې مخې ته راځي. (انعام: ۹) خدای د حق بیرغ جګوونکی د پرښتې په څېره کې نه رااستوي. بلکې د بشریت جامه ورباندې غوړوي. تر څو خلکو ته د خپل ځان په څېر یو انسان په نظر ورشي:

«نبي کریم ص چې کله خپل قوم ته د حق پیغام څرګند کړ، نو د هغه د قوم انکار کوونکو سردارانو وویل: موږ خو تا ایله د خپل ځان په څېر یو بشر ګورو او نه دې وینو چې زموږ له ټیټو (بې پته) بې فکره (ساده) خلکو پرته بل چا ستا متابعت کړی وي او پر موږ باندې ستاسو کوم غوره‌والی هم نه درکې وینو، بلکه زموږ خیال خو دا دی، چې ته د خدای استازی نه یې، او موږ خو تاسو دروغجن ګڼو. (هود: ۲۷)»

ketabton.com - The Digital Library

د مؤمن او غیرمؤمن تعریف که د حقیقت په ژبه کوو، نو ښایي په دې ډول به وي:

مؤمن هغه دی، چې د دلیل او معقولیت په ټکو کې په خبره پوه شي. غیرمؤمن هغه دی، چې خبره به یوازې هغه وخت اوري، چې د خدای اواز لوړ شي، سره له دې چې د هغه مهال اورېدنه به چاته هېڅ ګټه ونه رسوي.

## ۱۰) د حقیقت طلب

یو شخص چې د غرور او عصبیت په څېر ارواییي غوټو کې نغښتی وي، هغه هېڅ کله حقیقت نه شي لیدلی، که هر څومره په واضح حالت کې یې هم مخې ته راشي. حقیقت ته د رسېدو لپاره ضروري ده، چې د حقیقت طالب اوسې.

**«تلک عشرة کاملة»**

**رحمت شاه فراز**

## Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*